دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

تباه دی هر غیبت ګر پېغور ورکوونکې. هغه چې مال یې راټول کړی او په شمار یې زیرمه کړی دی. ګمان کوي چې مال به یې له مرګ څخه تل وژغوري. نه ده داسې بلکې خامخا به په ماتوونکې کې ورواچول شي. ته څه پوهېږې چې ماتوونکې څه دی؟ د الله بل کړی اور دی. چې په زړونو خېژي. او پر هغوی به سر پټې وي. د لوېو او راښکلو شوو ستنو په مینځ کې به یې لمبې وي. (سورة الهمزة)

درس حدیث

از حذیفه بن یمان رضی الله عنه روایت است که گفت: منافقت چیزی بود که در زمان پیامبر خدا صلی الله علیه وسلم وجود داشت، ولی منافقت امروز کافر شدن بعد از مسلمان شدن است.

(صحیح البخاری)

شهادت خلورم کال، ۵ مه ګڼه، پرله پسې ۱۵۲ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د غويي ۲۰ مه د۱۴۳۳ هـ ق د جمادی الثاني ۱۷ مه د۲۰۱۲ م د مې ۹ مه

د بهرنیو چارو وزارت د ایران سفیر احضاروي

دایران دسفیر څرګندونې د ډیپلوماتیک عرف خلاف دي او هېڅ سفیر حق نه لري، چې دبل هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي

پژواک:
د مشرانو جرګې رییس وایي، چې تاکل شوې په کابل کې د ایران سفیر د هغه د څرګندونو له امله، چې مشرانو جرګه دې له امریکا سره ستراتیژیک سند نه لاسلیکوي، د بهرنیو چارو وزارت ته وغوښتل شي.

د افغانستان او امریکا ترمنځ د ستراتیژیکو همکاریو سند تېره اونۍ د دواړو هېوادونو د ولسمشرانو ترمنځ لاسلیک شو او په پام کې ده، چې د تایید لپاره ملي شورای ته واستول شي.

د مشرانو جرګې غړي نثار حارث تېره ورځ پژواک خبري اژانس ته وویل، چې په کابل کې د ایران سفیر ابوالفضل ظهره وند تېره اونۍ د مشرانو جرګې له رییس فضل هادي مسلمیار سره په تعارفي لیدنه کې غوښتې وو، چې مشرانو جرګه دې ستراتیژیک سند نه تاییدوي.

د مشرانو جرګې رییس په پرونۍ (دغویي ۱۹مه) عمومي غونډه کې ومنله، چې د ایران سفیر له هغه نه داسې غوښتنه کړې او تاکل

پاتې ۴ مخ

اګر زنده گی افغانها حفاظت نگردد، توافقنامه ستراتیژیک معنی ندارد

کابل، رسانه ها:
حامد کرزی رییس جمهور افغانستان

روز گذشته قومندان عمومی نیروهای ناتو و امریکایی در افغانستان و سفیر امریکا در کابل را به ارگ ریاست جمهوری خواسته و نگرانی عمیق حکومت اش را در مورد ادامه تلفات ملکی در کشور ابراز داشت.

بر اساس اعلامیه منتشر شده از ریاست جمهوری افغانستان، آقای کرزی به جنرال جان الن و راین کراکر سفیر امریکا گفت، اگر زنده گی افغانها حفاظت نگردد، توافقنامه ستراتیژیک معنی ندارد.

آقای کرزی همچنان گفت، نیروهای ناتو در حملات اخیر شان در چهار ولایت افغانستان،

بقیه در صفحه ۳

له امریکا سره د افغانستان ستراتیژیک تړون د هیچا په زیان نه دی

غوښ خواب هدایت ورکړ:
"تېره ورځ چې زه دلته راتلم په لار کې راته وویل شول، چې د یوه ګاونډي هیواد سفیر د

پاتې ۳ مخ

کابل، رسنی:
د افغانستان د ولسمشر امنیتي سلاکار ډاکټر رنګین دادفر سپنتا، د دوشنبې په ماسپښین هرات پوهنتون یو شمېر استادانو او دغه ولایت سیاسی شخصیتونو ته خبرې کولې؛ چې تمرکز یې امریکا سره د اوږدمهاله مرستو د تړون و.

سپنتا وویل، تړون کې د افغانستان ګټې شته خو په هیڅ صورت کې د بل کوم هېواد یا سازمان په تاوان نه دی، دوی څو پلا ګاونډیو هیوادونو ته دا موضوع روښانه کړې هم ده.

د خبرو په دوام یې د یوه ګاونډي هیواد د سفیر نوم واخیسته وویل؛ تیره ورځ یې مشرانو جرګې څخه څینې غوښتنې کړي، چې ده د

پاکستان دې دا یقیني کړي، چې خاوره یې د تروریستي فعالیتونو لپاره نه کارول کیږي

اسلام اباد د سخت دریځو د ځپلو په وړاندې د پام وړ اقدامات نه کوي

کابل، رسنی:
د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن نن له پاکستان څخه وغوښتل؛ چې باید زیات

څه ترسره کړي، څو دا یقیني کړي، چې له خاورې یې د ترورریستي فعالیتونو لپاره کارنه اخیستل کیږي.

د کلنټن څرګندونې د دې ښکارندویي کوي، چې د تروریزم پر وړاندې جګړه کې د دواړو متحدینو اړیکې ترکومه حده کړ کیچنې دي.

کلنټن دا غوښتنه په نوي ډیلي کې د هند د بهرنیو چارو له وزیرسره په ګډ خبري کنفرانس کې وکړه.

هند په کراتو کراتو خپل سیال، په اټمي وسلو

پاتې ۳ مخ

حدود ۲۰ زندانی طالب طی دو سال از قید نیروهای ناتو رها شده اند

رادیو ازادی:
یک مقام امریکایی می گوید، در ادامه تلاش ها برای مذاکرات صلح با طالبان، در دو سال گذشته حدود بیست مقام بلند رتبه این گروه از قید نیروهای ناتو در افغانستان، آزاد شده اند.

این مقام امریکایی که نخواسته است نامش افشا گردد گفت، این قومندانان ارشد طالبان که در زندان پروان زندانی بودند، افراد خطرناک بودند. به گفته این مقام امریکایی، آزادی این اعضای طالبان اغلباً به تقاضای حکومت افغانستان صورت گرفته است و گمان می رفت هیچ یک از این افراد دوباره به صفوف طالبان نخواهند پیوست و راهی میدان جنگ نخواهند شد.

بقیه در صفحه ۳

شخصیتی که تاریخ فراموش نخواهد کرد

هدایت الله عادلیار صفحه سوم

د افغانستان موقعیت او د ګاونډیانو حساسیت

محمد خلیل دویم مخ

حکومت افغانستان در مورد بازداشت جواسیس ایران خاموش است؟

کابل، رسانه ها:
به دنبال بازداشت جواسیس ایران در افغانستان، مردم از حکومت افغانستان می خواهند، تا نسبت به این مساله عکس العمل شدید نشان بدهد. شماری از آگاهان سیاسی و افغان های عادی هشدار می دهند اگر در برابر مداخله های کشورهای همسایه به خصوص ایران در امور افغانستان، عکس العمل جدی نشان داده نشود، عواقب ناگوار را برای افغانستان در پی خواهد داشت.

از آغاز هفته، جاری تا اکنون سه افغان که یکی از آنان خبرنگار آژانس فارس ایران است، به اتهام جاسوسی برای ایران توسط نیروهای امنیتی افغان بازداشت شدند. این افراد متهم به قصد اجرای اعمال تخریبی در افغانستان و افشای اسرار دولتی این کشور به سفارت ایران در کابل اند. برخی از آگاهان سیاسی نسبت به خاموشی حکومت افغانستان در این خصوص ابراز تعجب کرده و می گویند که شاید یکی از عوامل آن، نفوذ ایران در داخل دستگاه دولتی افغانستان باشد.

بقیه در صفحه ۴

چرا اتهام بر اعضای پارلمان؟!

دکتور محمد انور

با آنکه بحران بیش از سه دهه در کشور ما ناشی از مداخله مغرضانه همسایگان و کشورهای منطقه در امور داخلی ما که تا همین لحظات حالت زخمی خون چکان را دارد و همه روزه فرزندان این سرزمین خود را در کشتارگاه احساس می کنند و از بمباردمان ها و حملات انتحاری، تجاوز بر حریم امن فامیل در امان نیستند. به گفته شاعر بزرگ خوشحال خان ختک:

دا جهان قصاب خانه کړ خدای وماته
پا بسته ولاړ به غولی د قصاب یم

مردم را از وحشت تسلط دوباره همسایگان بر مقدرات وطن ما ناچار ساخته است پای کشورهای قدرتمند جهان را در اینجا ببندند و یا با رشته ای آنها را با افغانستان تعلق دهند که هر زمانی هیولای سلطه همسایگان خواب شانرا ناراحت سازد با اهتزاز آوردی همان رشته ها بار دیگر از شرارت مداخله همسایگان و تحمل نظام های دلخواه آنها بر کشور در امان مانند.

و اکنون هر افغان حق دارد همسایگان را مخاطب گرداند:

زه دا هسې بېگانه و مجنون چا کړم
له رواجه له رسومه بیرون چا کړم

هر گاه بلند پروازی خواسته های افراطی همسایگان و مداخله ناشی از آن در امور داخلی کشور ما نمی بود پای ارتش این همه کشورها به وطن ما کشانیده نمی شد.

آنها به آنچه خود بسر خود آورده اند جای حسرت نه گذاشته اند، با آنکه در این موافقتنامه آنچه برای همسایگان قابل تشویش باشد وجود ندارد، نزول هر بلائی از آن متصور باشد بر فرق ملت خود ما است، مانند:

– تأکید دوباره بر شرایط مصالحه ملی با مخالفین مسلح که از ده سال باینطرف نتوانسته است مشکل مردم ما را حل نماید و مخالفین مسلح نظام را جرأتمندتر ساخته است.

بقیه در صفحه دوم

PROPERTY OF ACKU

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د بهرنیو لاسپوڅو د ازمېښت شېبې

دا خبره له رسنیو پټه نه ده چې زموږ د دولت په مقننه کې یو شمېر داسې وګړي هم شته چې یا خو زموږ د ګاونډیانو په مالي لګښتونو بریالي شوي دي او یا د بهرنیو کړیو په سپارښتنه په انتصابي ډول د سنا د مجلس غړي معرفي شوي دي.

د تېرې چهارشنبې په شپه یعنې د غوایي د میاشتې په دولسمه او دیارلسمه چې د امریکا د متحده ایالاتو او افغان دولت ترمنځ ستراتیژیک تړون لاسلیک شو، نو یو شمېر رسنیو اندېښنه څرګنده کړه چې په پارلمان کې د ایران او پاکستان پلوي کسان به دغه ستراتېژیک تړون د منلو وړ ونه ګڼي او کېدای شي چې حکومت په دې باب له ستونزو سره مخ شي.

ولې په کابل کې د ایران سفیر د تړون په باب د پارلمان بحثونو ته صبر ونه کړای شو او د سنا د مجلس له رئیس فضل هادي "مسلمیار" سره د پېژندګلوی په کتنه کې په ډېره سپین سترګی څرګنده کړه، چې که افغان پارلمان د افغانستان او متحده ایالاتو ترمنځ ستراتېژیک تړون ومنی د ایران له سخت غبرګون سره به مخ شي.

د ایراني چارواکو دغه ډول سپین سترګي لومړی نه ده، لا چې تر دې دمخه ایراني جمهور رئیس د ټولو دیپلوماتیکو ادابو د تر پښو لاندې کولو په ترڅ کې افغانستان یو مستعمره هېواد بللی دی.

افغانان پوهېږي چې د ایراني چارواکیو دا ډول څرګندونې له افغانانو سره د همدردی په خاطر نه دي، نه د افغانانو د ګټو په خاطر دا ډول ویناوې کوي، بلکې ایران له امریکایانو سره د دښمنی په خاطر دا ډول هڅې کوي، چې افغانان پر خپلو احساساتي خبرو راوپاروي او زموږ په ګران هېواد کې د جګړو د لادوام لامل شي.

ایران دې خپل تر دېرشو کلو پخواني تاریخ ته وګوري، چې هغه مهال همدغه ایران په سیمه کې د امریکا ژاندارم ګڼل کېده، خو څوک ثابتولای نه شي چې دهغه مهال افغان حکومت دې په دې اړه څه ډول څرګندونې کړي وي، یا همدا اوس چې ایران د روسي ساینسدانانو په مټ د اتوم بمب او اتومي میزایلو په جوړولو بوخت او نړیوال فشارونه زغمي، افغانان دا د ایرانیانو خپل کار ګڼي او تر اوسه یې په دې اړه هېڅ هم ویلي نه دي او کنه نو ډېری داسې خبرې شته افغانان پرې اندېښمن شي. افغانان د نړیوالو اصولو په رڼا کې دا د ملتونو او حکومتونو حق بولي، چې له چاسره تړونونه کوي او له چاسره نه.

ولې د ایران او پاکستان سپین سترګیو او لاسوهنو نور افغانان دې ته اړ کړي چې پخپل هېواد کې د سولې او امن په خاطر لاس پښې ووهي، او ورته ووایي چې موږ خپلې ملي ګټې پېژندلي او د ګاونډیانو شوم او بد نیتونه هم. بیا به هم إن شاء الله موږ د خپل لوری د ښه ګاونډیتوب څرګندونه کوو.

اوس دهغو کړیو د ازمېښت وخت رارسېدلی چې پر خپلو ځانګړیو ګټو یې ملي ګټې قرباني کړي او د خپلچاریو ګاونډیانو د لاسوالي ګرځېدلي دي. هیله ده چې ددغه ستراتېژیک تړون په ترڅ کې هغه مخونه ښه وپېژندلای شو، چې پخپل هېواد کې د پردیو د ګټو لپاره کار کوي.

د افغانستان موقعیت او د ګاونډیانو حساسیت

محمد خلیل

د تېرې دوشنبې په ورځ ټولو ورځپاڼو دا خبر خپور کړ چې د ایران نوی سفیر ابوالفضل ظهروند د افغانستان ملي شوری ته د ستراتیژیک تړون د تصویب پر وړاندې خبرداری ورکړی او ویلي یې دي که دغه تړون تصویب شي ایران به یې په اړه چوپ پاتې نه شي او غبرګونونه به وښیي، نوموړي د مشرانو جرګې له رئیس فضل هادي مسلمیار سره په تعرفي کتنه کې له هغه وغوښتل چې ملي شوری دې له امریکا سره د ستراتیژیکو همکاریو تړون رد کړي.

پر ایران سربېره د روسیې او چین په شمول ځینې نور هېوادونه هم چې له ایران سره نږدې اړیکې لري د امریکا او افغانستان ترمنځ د ستراتیژیکو همکاریو د موافقه لیک په اړه اندېښنې لري.

که د افغانستان ګاونډیان د سرسري فکر پر ځای ژور غور وکړي او خپل هېوادونه افغانستان فرض کړي نو کېدای شي د افغانانو په هغه مشکل پوه شي چې د تېرو څو لسیزو راهیسې ورسره لاس او ګرېوان دي.

ګاونډیان دې لږ غونډې په دې خبره هم ژوره څېړنه وکړي چې افغانستان دغه بدحالت ته چا ورساو؟ آیا ګاونډیان پخپله په دې لوی جرم کې شریک نه دي؟ که دي نو بیا له دې نه د وتلو لاره څه ده او که نه دي نو بیا افغانستان د ګاونډیانو د ګټو د ترلاسه کولو د مسابقې ډګر ولې ګرځېدلی دی؟ تر اوسه پورې د افغانستان ټول ګاونډیان پخپلو کې د خپل هغه ګاونډي هېواد په اړه چې د خپلو ګاونډیانو د مستقیمو او غیر مستقیمو لاسوهنو له کبله د اوږدې مودې راهیسې د جګړو په سرو لمبو کې ورېتېږي د نجات لپاره ولې عملي ګامونه نه پورته کوي؟ هغوی د زړه له تل نه چېرته داسې غونډې او ناستې ترسره کړې دي چې د افغانستان د سلامتیا، استحکام، استقلال، اقتصادي ودې او نورو پرمختګونو لپاره تصمیمونه نیول شوې وي او په دې خبره ټینګار او هوکړه یې کړې وي چې د افغانستان په داخلي چارو کې به هېڅ ډول لاسوهنې نه کوي؟

هغو افغانانو چې تل د پاکستان او ایران ولسونو ته خپل ورور خطاب کړی او نیکې هیلې ورته په زړه کې پالي له بده مرغه افغانان یې کله هم خپلې سینې ته جوخت نه کړل، دهغوی د وحدت او یووالي لپاره یې چېرته هم مثبت ګام پورته نه کړ، بلکې برعکس هڅه یې وکړه چې قومي، ژبني، مذهبي او کلتوري اختلافونو فتنه راولاړه او د یو بل په خلاف یې وجنګوي، د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د جګړو اور بل، او امن یې تباه او برباد کړي. ګاونډیان دې پخپله فکر وکړي چې که بالفرض همدوی د افغانانو په سرنوشت اخته وای او یا همدوی د افغانانو پرځای وای نو دوی به څه کړي وو؟ له دې حالت نه د خلاصون لپاره به یې کومه لاره خپله کړې وه؟ افغانانو خو دا حالت پخپل ځان پخپله ندی راوستی بلکې په زوره ورباندې مسلط شوې دی. که پاکستان او ایران غوندې قوي هېوادونو د افغانستان د استحکام خیال ساتلی وای او افغانان یې د وروري په غېږ کې نیولی وای افغانستان به ولې د بهرنیو ځواکونو اډه ګرځېدلې وه؟ دا سیمه به ولې له داسې" بد حالت سره مخامخه شوې وه چې د ایران په شمول د سیمې له ټولو هېوادو یې خوبونه تښتولي دي.

کاش ګاونډیانو د افغانستان اهمیت له وړاندې پېژندلې وای او د کمزورې کولو پر ځای یې پخپلو پښو ودرولې وای، داسې یو افغانستان چې ګاونډیان یې د تجزیه کولو په هڅو کې لګیا دي او نه غواړي چې د افغانستان په نوم یو هېواد دې د نړی په نقشه کې پاتې شي له دې پرته بل څه چاره لري چې لږ تر لږه د ژوندی پاتې کېدو لپاره له چا سره ستراتیژی تړون وکړي؟ که بیا هم ګاونډیان له امریکا او یا نورو هېوادو سره پوځي تړون نه شي زغملې نو بیا دې مهرباني وکړي ټول ګاونډیان په یو اتفاق افغانانو ته د ملګرو ملتو په اداره کې ددې خبرې پوخ ضمانت ورکړي چې له افغانستان نه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته په افغانستان کې هېڅ ډول پوځي، سیاسي، کلتوري او اقتصادي مداخله نه کوي، خو ډېر افسوس چې نه پخپله په افغانستان کې د نه مداخلې او ښه ګاونډیتوب ډاډ ورکوي او نه هم افغانانو ته اجازه ورکوي چې پخپل هېواد کې د امن او استحکام د ټینګښت لپاره له نورو هېوادو سره ستراتیژیک تړونونه وکړي که له واقعیتونو سترګې پټې نه کړې شي نو ګاونډیان د خپلو هغو کړنو سزاویني چې په افغانستان کې یې ترسره کړې دي. آخر افغانان د چا څولۍ ته وغورځېږي دچا فرمایشونه پوره کړي؟ او څوک خوشاله کړي؟ که ایران او هندوستان ته نژدې کېږي نو پاکستان د مرچکو په ډېری ودرېږي او که پاکستان ته نژدی کېږي نو هندوستان او ایران په سرو سکروټو ودرېږي، هر یو داسې فکر کوي چې افغانستان دهغوی ذاتي ملکیت او افغانان یې زر خرید غلامان دي، افغانان نه پوهېږي چې څه وکړي له چاسره دوستي وکړي او له چا سره دښمني؟ ځکه چې په دوستي کې یې هم تاوان دی او په دښمني کې هم.

د ګاونډیانو ګټه خو په دې کې وه چې افغانان یې خپلې ارادې ته پرېښې وای تر څو له خپلو ټولو ګاونډیانو او د نړی نورو هېوادو سره خپلې اقتصادي، تجارتي، سیاسي او کلتوري اړیکې پاللې وای خو ډېر افسوس چې ګاونډیانو افغانستان خپل شخصي میراث وګاڼه او دایې د خپلو ګټو او اهدافو د پاللو او سیالیو ډګر وګرځاو چې ددوی د همدغو شومو اهدافو او بدو نیتونو په نتیجه کې د افغانستان خاوره د امریکا او ناټو په څېر د غټو خامارانو د پوځي حضور ډګر وګرځېد چې د ایران په ګډون د سیمې هېوادونه د خپلو ګټو په وړاندې ستر ګواښ او خطر ګڼي، پخپله ورسره د مخامخ ټکر او تصادم توان نه لري چې په زوره د افغانستان له خاورې وباسي مګر د پردې ترشا پر افغانانو فشار راولي چې د امریکا په خلاف د جنګ سنګرونه تاوده کړي خو دا خبره له یاده وباسي چې که چېرته تقریباً په اقتصادي او پوځي لحاظ په پښو ولاړ ایران، پاکستان، چین، روسیه او داسې نور هېوادونه له امریکا سره د مخامخې جګړې حوصله نه لري نو افغانستان غوندې جنګ ځپلي او فقر وهلي ولس به څنګه د نړۍ له شېږ ځلوېښتو هېوادو سره د جنګ دروند پېټی په یواځې ځان په سر واخلي.

دا سیمه به یواځې او یواځې په هغه صورت کې د امن او استحکام ښه خپله کړي چې له هر څه وړاندې ګاونډي هېوادونه د افغانستان د سلامتیا لپاره په ګډه یوه داسې ستراتیژي جوړه کړی چې په هېواد کې دننه څومره ناخوالې او کښمکښو نه روان دي دهغوی د ختمولو او د افغانستان د استحکام لپاره خپلې ګډې هلې ځلې په کار واچوي.

چرا اتهام بر اعضای پارلمان؟!

– تأکید بر بازار آزاد که طی ده سال گذشته کشور ما را بازار اجناس بی کیفیت تجارتی کشورهای جهان گردانیده و صدها هزار کارگر افغان برای یافتن لقمه عیشی آواره کشورهای همسایه و سراسر جهان اند.

– تأکید بر آزادی مطبوعات که مردم ما را تماشاگر سریال های فاسد کننده سینماهای تجارتی و صحنه های منحرف کننده هم جنس بازی و هزاران فجور و فساد گردانیده است.

– هرگاه مفهومی را که آقای رئیس جمهور از مرکزیت نظام گرفته اند تحمیل همان نظام ریاستی ای باشد که در همین ده سال آقای کرزی بر مردم ما تحمیل نموده اند. تأکیداً درج این موافقت نامه گردیده است و نظایر آن که در این مدت ده سال نتوانسته است کشور ما را گهواره صلح، آرامش، ثبات و ترقی سازد و دست های مداخله بی شرمانه همسایگان را از این سرزمین قطع نماید، و همین یکصدو سی هزار نیروهای خارجی خاموشانه شاهد ویرانی ولسوالی های سرحدی از اثر توپخانه پاکستان بوده اند پس از این چه خبری را می توان چشم طمع داشت.

اکنون باید به پارلمان کشور ما فرصت داده شود با توجه به مصالح علیای وطن در رابطه با این موافقت نامه تصمیم اتخاذ نماید.

تأسف آور است که بعنوان بلدوز برای تصویب این موافقت نامه از پارلمان کشور از طرف شخصی بنام مرادیان از طریق روزنامهء آرمان ملی روز گذشته اظهارات غیر مسؤولانه ای پخش می گردد که گویا ۴۴ نفر از اعضای ولسی جرگه معاش خوار ایران اند که در برابر تصویب این موافقت نامه در مجلس مخالفت خواهند کرد. •

این نوع اتهامات قبل از آنکه اعضای پارلمان را زیر سوال ببرد که اکثراً چهره های شناخته شده اند. باید هویت آقای مرادیان را زیر سوال ببرد که به توظیف از کدام حلقه ها در همچو یک مقطع حساس این فتنه را بالا کرده است.

او خود که از هویت مشخصی برخوردار نیست چگونه جرأت می کنند ۴۴ تن از اعضای پارلمان را متهم سازد که گویا از سفارت ایران معاش دریافت می کنند؟ !

در عین حال تحلیل گری از بقایای رژیم کمونیستی که قبلاً با همه انگشتان دست و پا بر پای قرار داد غلامی این سرزمین به اتحاد جماهیر شوروی سوسیالیستی صحه گذاشته بود اکنون ولسی جرگه را برای به تصویب رسانیدن این موافقت نامه ترغیب می نماید این تحلیل گر، اعضای پارلمان را کودکانی گمان کرده است که با زدن بر پشت اعضای پارلمان آنها را جهت دهد.

در کشوری که بالغ بر ۷ ملیارد دالر بودجه نظامی آن بر کشورهای جهان بار است، و بیشتر از پنجاه فیصد بودجه عادی متکی بر مساعدتهای خارجی بوده و دفتر رئیس جمهور از مساعدتهای نقدی کشور ایران بی نیاز نباشد، از کجا می توان اعضای پارلمان را متهم کرد که گویا مصالح کشور را در بدل مساعدت یک کشور خارجی قربان نمایند؟

بمناسبت سیزدهمین سالگرد شهادت مولوی قیام الدین خردمند امیر جهاد و والی بدخشان

شخصیتی که تاریخ فراموش نخواهد کرد

هدایت الله "عادلیار"

تاریخ میبالد و افتخار دارد که برگهایش با یاد شخصیت های حماسه آفرین همیش سبز رنگ بوده و خوانندگان را در شاخسارش چون بلبل به ناله بیاورد. این هفته برگ های سبز شهادت به یاد یکی از شخصیت های بزرگ افغانستان سبز رنگ تر است گرچه ما در مورد کارنامه های چنین شخصیت ها صدها برگ هم نوشته بکنیم هنوز چیزی نگفته ایم، ولی آنکه فراموش شان نکرده باشیم به برگی قناعت میکنیم.

پنجاه و پنج سال قبل از امروز در سال (۱۳۳۶ هـ) پسری در دهکدهء ارگتال ولسوالی ارگو ولایت بدخشان در خانهء ملا محمد یونس بدنیا میآید که پدرش شخص مذکور او را قیام الدین نام گذاشت. فرزند معصوم در حالیکه از ۴ سال بیشتر عمر نداشت پدر بزرگوارش را از دست میدهد و بعد از سن ۴ الی ۷ سالگی را تحت سرپرستی مادر و یکی از وابستگانش میگذراند، و در سن ۷ سالگی مادرش نیز فوت میکند، قیام الدین بعد از فوت مادرش در یکی از مدارس دینی ولایت بدخشان شامل شده راه تعلیم را در پیش گرفت و الی ایام جوانی را در این مدرسه سپری نموده بنابر علاقه خود در یکی از مدارس دینی ولایت تخار بصفت دانش آموز شامل شده به تحصیلش ادامه داد و در همین مدرسه لقب خردمند را بخود کسب نمود، و بعد از سپری نمودن چند مدت عازم ولایت کابل شده باز هم در یکی از مدارس دینی این ولایت به تحصیلش ادامه داد، بنابر تحصیلات ایشان میتوانیم مولوی بگوئیم.

بعداً مولوی قیام الدین خردمند در قطار تعداد از جوانان مسلمان نهضت اسلامی که به کشور پاکستان هجرت کردند راه هجرت را درپیش گرفت و بعد از سپری نمودن چند مدت در این کشور با کسب اسلحه از رهبری نهضت اسلامی جوانان افغانستان دوباره وارد کشور شده از نقاط ولسوالی های جرم، وردوج ولایت بدخشان معرکه های گرم مبارزه را علیه متجاوزین قشون سرخ جماهیر شوروی آغازگر شدند که در این جنگ ها یکبار هم از قسمت شانهء شان مجروح شدن و بعداً با تعداد از مجاهدین که در ولسوالی کشم حضور داشتند یکجای شده در این ولسوالی جنگ را علیه متجاوزین آغاز کردند، بالآخره با سپری نمودن جنگ های مداوم نقاط ولسوالی های تیشکان، درائیم و ارگو را تحت تسلط درآورده به مرکز بدخشان (فیض آباد) نزدیک شدند که میباید از این صحنه های گرم مبارزه مجاهدین تحت قوماندهٔ خردمند صاحب مشت نمونهء خروار یادآور شد، از جمله حملهء مجاهدین بر میدان هوایی فیض آباد که مرکز روس ها در بدخشان بشمار میرفت فراموش نباید کرد که در این جنگ مجاهدین ولایت تخار تحت قوماندهٔ شهید انجنیر شهادتیار و مجاهدین ولسوالی کشم تحت قوماندهٔ شهید قوماندان عبدالودود اشتراک داشتند که این جنگ منجر به تخریب سینما، دیپوی مهمات و کشته شدن دهها سرباز روسی و غلامان حلقه بگوش شان شد و دوم صحنهء نبرد که ما یادآور میشویم جنگ اوچی که بنام منطقه در ولسوالی ارگو ولایت بدخشان مسمی است که در این جنگ مجاهدین جبههء البدر ولسوالی ارگو تحت رهبری خردمند صاحب در دفاع قرار داشتند البته عامل این جنگ حمله روس ها و همکاران داخلی ایشان بالای مجاهدین بود، این جنگ مدت پانزده روز دوام کرده که در این جنگ هم ده ها نفر از دشمن کشته شدند و از مجاهدین سه نفر شهید و چند نفر دیگر مجروح شدند، این سه نفر شهداء عبارت بودند از شهید قوماندان اسمعیل خان فضل الهی، شهید قوماندان قاسم و شهید استا جمعه خان.

ما نمی توانیم تمام کارنامه های مولوی بزرگوار را در صفحهء خلاصه کنیم بناءً جای دارد که از مسؤولیت های فرهنگی شان هم یادآور شویم، از جمله مسؤولیت های فرهنگی این ابرمرد بزرگ قلم و سنگر تأسیس دارالیتام ولسوالی ارگو، شهرک وحدت این ولسوالی، کلنیک این ولسوالی و اعمار چندین باب مکتب لیسه، متوسطه، ابتدائیه و مدارس دینی میباشد حتی در زمانیکه فضای میهن به غبار جنگ آلوده بود و از شدت جنگ در هیچ نقطهء افغانستان مکتبی وجود نداشت ولی با سعی و تلاش مدبرانهء خردمند صاحب با وجودیکه هیچ ساعت جنگ هم خاموش نمی شد، دروازهٔ معارف بروی فرزندان این ولسوالی باز بود.

خردمند صاحب در زمان جهاد نخست مسؤولیت جبههء البدر مدت بعد مسؤولیت جبهات حزب اسلامی ولایت بدخشان و بعد از آن مسؤولیت جبهات زون شمال شرق حزب اسلامی افغانستان را عهده دار بودند. بعد از پیروزی مجاهدین از ۱۳۷۱ الی ۱۳۷۶ بصفت قوماندان امنیه ولایت بدخشان و از سال ۱۳۷۶ الی اوایل سال ۱۳۷۸ بصفت والی ولایت

بدخشان ایفاء وظیفه می نمودند، در اوایل همین سال در حالیکه والی ولایت بودند هنگام برگشت از دفتر کار شان بسوی قرارگاه شبانه اش در مسیر راه در یک حملهء تهاجمی از قبل طرح شده توسط دشمنان بزدل دین و میهن ما که غرور حسادت شان نخواست دیگر این ابرمرد بزرگ زنده باشد به شهادت رسید.

(روحش شاد و یادش همیشه گرامی باد)

باید یادآور شد که کارنامه های این شهید بزرگوار به این خلاصه شده نمی تواند بناءً ما کتابی را تحت عنوان بازتاب از فرمانده مجاهد شهید مولوی قیام الدین خردمند (رح) زیر تحریر داریم که إن شاء الله در مدت کم بدست شما عزیزان شهید پرور و مجاهد قرار میگیرد.

اگر زنده گی افغانها حفاظت ...

افراد ملکی را کشته اند.

تعداد از باشنده گان ولسوالی بالامرغاب ولایت بادغیس می گویند، در اثر بمبارد نیروهای ناتو بر یک قریه به روز یکشبه، حدود و غیر نظامی کشته شدند. مردم محل به رادیو آزادی گفته اند، اکثر قربانیان زنان و اطفال اند.

مردم محل همچنان گفته اند، این بمبارد بر کوچی ها صورت گرفت و در حادثه، تعداد زیاد از مواشی آنان هم تلف شده است. از سوی دیگر سخنگوی والی ولایت هلمند گفته است، به روز جمعه در ولسوالی سنگین این ولایت در اثر حمله هوایی ناتو یک مادر همراه با سه دختر و دو پسرش کشته شد. والی هلمند این حادثه را محکوم نموده از ناتو خواست تحقیقات را در مورد دلیل این حادثه انجام دهد. بر اساس اعلامیه دفتر ریاست جمهوری، این بمباردها که از روز شنبه به این طرف در ولایات لوگر، کاپیسا، هلمند و بادغیس رخ داده اند و در آن ده ها نفر به شمول زنان و اطفال کشته شده اند.

رییس جمهور کرزی به قومندان ناتو و سفیر امریکا در کابل گفت، تلفات ملکی و بمبارد قریه ها غیر قابل قبول بود، است و خواهد بود. همین تلفات ملکی همیشه باعث ایجاد تنش در روابط افغاستنان و امریکا شده است.

جان الن قومندان نیروهای امریکایی و ناتو در افغانستان گفت، شخصاً مسوولیت این حادثه را به دوش می گیرد و بعد از تحقیقات جدی گزارشش را در مورد، به رییس جمهور کرزی پیشکش خواهد کرد.

له امریکا سره د افغانستان...

مشرانو جرګې رییس ته ورغلی و؛ د هغه هیواد سفیر چې زما ډېر نږدې دوست دی او خو پلامې ډاډ هم ورکړی دی؛ چې موږ دوجانبه دوستي ته وفادار یو، د مشرانو جرګې رییس ته وایي، چې افغانستان سند لاس لیک کړی، که مشرانو جرګې تصویب کړ، افغانستان به ستونزو کې بند شي، ما د مشرانو جرګې رییس ته وویل، چې که بیا یې ورته خبره درته وکړه، ځواب ورکړه، چې یو دلیل هم دغه دی، چې امریکا سره اوږدمهاله سند لاس لیکوو."

د افغانستان او امریکا ولسمشرانو په داوروستیو کې د ۱۰ کلونو لپاره د اوږدمهاله مرستو سند لاس لیک کړ؛ چې له مخې به یې د دواړوهیوادونو ازادی خوندي او د کوم هیواد په ضد به هم ګټه نه ترې پورته کیږي.

خو ځینی هیوادنو منجمله ایران عملاً ورته سند د خپل هیواد په زیان ګڼلی او د راپورونو پر اساس په پټه او ښکاره یې د افغانستان ولسي او مشرانو جرګه کې په نفوذ کولو د دغه سند د مخنیوی هڅه پیل کړې ده.

پوښتنه دا ده، چې یو ګاونډی هیواد د ورته هڅو حق لری که څنګه؟ په هرات کې د سیاسي چارو یو کار پوه عبدالخلیل عمادي، څخه مې وپوښتل په نه سره یې ځواب ووایه: "په هیڅ ډول په هیوادونو پورې اړه نه لری. د نړیواله اصولو په بنا هیڅ دولت دا حق هم نه لری چې بل دولت ته د تهدید اوسپارښتنې وکړي؛ د نړیوالو اصولو په بنا ورته وړاندیزونه د یوه هیوادو په کورنیو چارو کې لاس وهنه ده."

د خبرونو په اساس له هغې ورځې چې امریکا سره د افغانستان د اوږدمهال سند خبره راپورته شوې؛ د ایران ګڼه حکومتي مامورین ناکراره او رسنیو کې د دغه سند په ضد تبلیغات کوي؛ کومې خبرې چې نړیواله اصول یې د حق خلاف او د بل هیواد کورنیو چارو کې لاس وهنه بولي که څه هم په تیرو کې افغان دولت پټه خوله وه خو لومړی ځل ده چې سپنتا دغه لاس وهنه برملاه کړه.

پاکستان دې دا یقیني کړي...

سمبال ګاونډی تورن کړی، چې په خپله خاوره کې د سخت دریځو وسله والو له ځپلو اوږه خالي کوي.

واشنګټن او نوي ډیلي دواړو پر پاکستان سخت انتقاد کړی، چې پرممبی د ۲۰۰۸ کال د حملو تورن حافظ محمد سعید یې نه دی نیولی.

نوموړی د دې حملو چې په ترځ کې یې ۱۶۶ کسان وژل شوي، اصلي طراح بلل شوی دی.

هند پر پاکستان ډېرپه غوصه دی، چې په دې حملو کې د حافظ سعید د لاس لرلو په اړه له اسنادو او شواهدو سره سره چې اسلام اباد ته یې ور کړي، تراوسه هغه نه دی نیولی.

واشنګټن د سعید د نیولو لپاره لس میلیون ډالره انعام ټاکلی او له پاکستانه یې بیا بیا غوښتنه کړې چې هغه ونیسي.

کلنټن وویل، موږ د پاکستان د حکومت له لوري زیاتو اقداماتو ته سترګې په لاریو. دا هیواد باید دا یقین حاصل کړي، چې له خاورې یې پرنورو ځایونو او دننه د تروریستي حملو لپاره کارنه اخیستل کیږي، کلنټن زیاته کړه دا یوتریخ حقیقت دی؛ چې تروریستانو په پاکستان کې دننه له دېرش زرو څخه زیات پاکستانیان وژلي دي.

د هند د بهرنیو چارو وزیر "اس ام کریشنا" وویل، پر کابل وروستی حملې یوځل بیا دا مساله روښانوي، چې په ګاونډ کې د تروریستانو د خوندي ځایونو له منځه وړلو ته اړتیا ده او هم دې ته اړتیا ده پاکستان د تروریزم پرضد جدي اقدام وکړي.

اسلام اباد او واشنګټن تیر کال د یولړ مسایلو پرسر راپورته شویو اختلافاتو له یوبل سره لرې کړي، له افغانستانه په پاکستان کې د امریکا د بې پیلوټه الوتکو حملې او په پاکستان کې د القاعده پرپخواني مشر اسامه بن لادن د امریکایي خاصو ځواکونو عملیات چې په ترځ کې یې بن لادن ووژل شو؛ د اختلاف دوه مهم ټکي وو.

دې حقیقت ته په پام سره، چې اسامه بن لادن اسلام اباد ته نږدې په پوځي ګارنیزون ایبټ اباد کې خان پټ کړی و؛ نوي ډیلي ته دا پلمه په لاس ور کړې، چې ووایي، دا مساله ښکاره ثبوت دی، چې اسلام اباد د سخت دریځو د ځپلو په وړاندې اقدامات نه کوي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلری تیره ورځ د هند د کلکتې له ښاره د لیدو په مهال وویل؛ چې واشنګټن په دې باور دی چې د القاعده اوسنی مشر ایمن الظواهري هم په پاکستان کې پټ دی.

خو د واشنګټن او نوی ډیلي د تورونو په عکس العمل کې؛ د پاکستان د پوځ یو لوړ رتبه قومندان وایي؛ امریکا چې غواړي، په افغانستان کې له سخت دریځو وسله والو سره سوله وکړي، واشنګټن دې له پاکستانه نور د دې تمه نه کوي، چې په خپله خاوره کې د ټولو وسله والو پرضد اقدام وکړي.

د افغانستان پولې ته نږدې په قبایلی سیمو کې د میشتو پاکستاني ځواکونو عمومي قومندان جنرال خالد رباني له اسوشیټډ پرس اژانس سره په مرکه کې دغه راز واشنګټن تورن کړ؛ چې په افغانستان کې د وسله والو پرضد جګړه کې خپله ناکامي پرپاکستان اچوي.

حدود ۲۰ زندانی طالب طی ...

به گفته این مقام امریکایی زندانیان طالب به یک دلیلی در زندان پروان زندانی بودند، ولی اگر این گمان موجود می بود که این شورشیان دوباره به میدان جنگ خواهند رفت، ناتو آنها را آزاد نمی کرد.

به گفته این فرد امریکایی وی در نه ماه گذشته تنها از آزادی دو زندانی ارشد طالبان، خبر دارد.

گفته می شود تعداد از آزاد شده گان زندان گوانتانامو دوباره به شورشیان پرداخته و به میدان جنگ رفته اند.

به گفته مقام امریکایی، آزادی زندانیان طالب زمانی صورت می گیرد که فایده آزادی آنها نسبت به خطر آن بیشتر باشد.

هدف آزادی طالبان اکثراً معامله های نیروهای آیساف با رهبران قومی برای مصالحه و متارکه در مناطق است که در آن حضور طالبان قوی است.

خبر آزادی زندانیان طالب نخست از قول راین کراکر سفیر امریکا در کابل، از سوی واشنگتن پوست منتشر شد که گفته بود، افغان ها با معلومات که می تواند پروسه مصالحه را تقویت بخشد نزد ما آمده اند و ما هم بارها در زمینه، اقدام نموده ایم.

سخنگوی سفارت امریکا در کابل دیروز در باره بیانات کراکر گفت، هدف آقای کراکر برنامهء است که از دو سال به این طرف جریان دارد و در آن مقامات اردوی امریکا با همتاهان افغان شان فواید آزادی بعضی از زندانیان طالب را به بررسی می گیرند، زندانیانی را که در زندان پروان زندانی اند و حاضر به دست برداشتن از خشونت ها و پیوستن به برنامه صلح می باشند.

به گفته مقام امریکایی، حدود بیست زندانی طالب بر اساس این برنامه آزاد شده اند و تصمیم آزادی آنها زمانی گرفته می شود که اطمینان حاصل شود که آنها تهدید را به بار نمی آورند.

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

د افغانستان په اړه د اوباما وړاندوينې په حقيقت بدلېدای شي؟

Radio Liberty (RFE/RL)

فارن پالیسي:
فارن پالیسي خپرونه د افغانستان د جګړې په اړه په يوه مطلب کې له يولړ څرګندونو وروسته ليکي، د امريکا ولسمشربارک اوباما او د هغه سلاکاران په دې باور دي؛ چې له افغانستان سره د امريکا اوږ د مهاله ژمني او له دې هيواده په تدريجي ډول د امريکايي ځواکونو ايستل به له دې سره مرسته وکړي؛ چې افغان حکومت په قدرت کې پاتې شي، طالبان او پاکستان به همکارۍ ته وهڅوي او ښايي ترهرڅه مهم د امريکا عام ولس ته دا پيغام ورکوي؛ چې امريکايي ځواکونه بيرته وطن ته ستنيږي.
خو د ورځپانې په وينا د اتراوسه نه ده څرګنده چې اوباما او د هغه ډله به دومره په قدرت کې پاتې شي، چې په سيمه کې راتلونکې پيښې هغه ډول چې دوی يې پيشبيني کوي، ووينې. داسې دلايل شته چې ښايي دوی دومره وخت ونه لري. که داسې پيښ شي افغانستان به د يوې بلې اداري پراوږو باروي او د امريکا پوځ به د ډيرو کلونو لپاره هلته مشغول وي.
خپرونه وړاندې ليکي، اوباما په افغانستان کې له ولسمشر کرزي سره د ستراتيژيکو همکاريو سند لاسليک کړ؛ چې تر۲۰۲۴ کاله پورې له دې هيواد سره همکاري مشخص کوي، خو دغه موافقت نامه به چې په شيکاګو کې د ناټوپه راتلونکې سرمشريزه کې ترې ملاتړوشي، ښايي د دواړو د دوستانو او دښمنانو پرارزيابيو اغيزوکړي.
د فارن پالیسي په وينا د دغې موافقت نامې بريالیتوب په بشپړه توګه په راتلونکې يوې لسيزه کې د افغان او امريکايي مشرانو ترمنځ د اړيکو پرڅرنګوالي پورې تړلی دی. په دې اړه اوسنی حالت تشويقونکی ندی.
تيروکلونو د کرزي کړو وړو وښوده، چې په سياست کې د هغه پاتې کيدل د امريکا ضد احساساتو په زياتوالي پورې تړلی دی.
انډيپنډنټ:
بريتانوی انډيپنډنټ ورځپانې د سحرګلې د قضيې په اړه يوه ليکنه خپره کړې.
ورځپانه ليکي، سحرګله چې په ماشوم توب واده شوې وه او د خپل خسر په کورکې ورسره بد چلند شوی و، د هغې د خسرګنی درې غړي له بشري حقونو څخه د سرغړونو په جرم هريو په لس لس کاله بند محکوم شوي دي.
ورځپانه ليکي، د افغانستان لپاره د هيومان رايټس واچ څيړونکی هيدر بار وويل، دغه حکم تشويقونکی دی څکه حد اقل په دغې قضيه کې د څارنوالانو دريځ ښيي؛ چې دوی د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي په وړاندې يوجدی اقدام وکړ.
بار زياته کړه دا يومثبت اقدام دی خو هغه غيرمعمولی دی، څکه دغې قضيې ته ډيره عامه پاملرنه اوښتې خو په خپله د خشونت دغه عمل ډيربوګونکی دی.
انډيپنډنټ وړاندې ليکي، د بشري حقونو مدافعان په دې باور دي چې په ماشوم توب د نجونو د ودولو، د ناموس په نوم وژنو او د پورونو په پريکولو کې د ښځو د ورکولو په شان اعمالو د مخنيوي لپاره بايد زيات څه ترسره شي.
که څه هم په افغانستان کې د واده لپاره قانوني سن ۱۶ کاله تعين شوی؛ خو ملګري ملتونه اټکل کوي، چې نيمايي نجونې تر پنځلس کلنی مخکې ودېږي.

ملا تورجان:

رهایی زندانیان طالب برای پروسهء صلح موثر است

رادیو آزادی:
برخی از قومندانان سابق طالبان که اکنون به پروسه صلح افغانستان پیوسته اند، رهایی زندانیان طالب را به خاطر تقویت پروسه صلح مفید خوانده و می گویند، با اینکار فضای اعتماد میان حکومت و مردم ایجاد می شود.
پیش از این روزنامهء واشنگتن پست گزارشی را به نشر رسانیده بود که در آن از زبان یک مقام امریکایی گفته شده است که به اساس برنامه "رهایی استراتیژیک" شماری از زندانیان طالب، از یک زندان نظامی در افغانستان توسط امریکایی ها رها شده اند.
در برخی از گزارش ها، شمار این افراد بیست تن خوانده شده اند.
به اساس این گزارش، اجرای برنامه "رهایی استراتیژیک" از دو سال به این سو ادامه دارد که هدف از این برنامه رسیدن به اهداف تکتیکی و فرونشاندن خشونت ها در مناطقی است که نیرو های ناتو قادر به تامین امنیت آن نیستند.
ملا تورجان رییس شورای علمای قندهار و یکی از قومندان های سابق رژیم طالبان به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی، مساله رهایی افراد مهم طالبان از زندان ها را می پذیرد و می گوید که برادر وی نیز به اساس تقاضای او از زندان بگرام رها شده است. وی می گوید که رهایی زندانیان طالب به پروسه صلح افغانستان موثر تمام می شود:
"بسیاری مردم آزاد شده اند، افراد مهم نیز رها شدند و به خانه های شان رفته اند.
گفتگوهای دیگر در این مورد نیز ادامه دارند. آنان فعلاً مصروف کارهای ملکی اند و قسمی که گفته می شد، همان طور شده است.
اگر مردم راضی باشند، صلح تامین می گردد، در صورتیکه یک زندانی آزاد گردد، شصت تا هفت تن دیگر خوشحال می گردند. این کار بسیار اثر گذار است و مردم متوجه می شوند.
لست زندانیانی را که من برای یک جنرال آیساف در قندهار داده ام در آن ۱۴ نفر شامل اند.»
در گزارش واشنگتن پست آمده است که اشخاص رها شده از زندان ها، اکثر کسانی اند که نمی توان بر اساس نظام حقوقی آنها را از زندان های نظامی افغانستان آزاد کرد.
به گفته آنان، ممکن این افراد دوباره به گروه مخالفان مسلح حکومت یکجا شوند.
اما ملا تورجان این ادعا ها را رد کرده و می گوید، آن عده از طالبان که از زندان رهایی حاصل کرده اند، رهایی آنان به وسیله بزرگان قوم صورت گرفته است، بناءً آنان دوباره به جنگ رو نمی آورند.
در همین حال عطا محمد احمدی، رییس شورای ولایتی قندهار در صحبت با رادیو آزادی گفت که تا به حال به تعداد ۴۱ تن از طالبان در نتیجه تلاش های شورای ولایتی این ولایت از زندان بگرام رهایی حاصل کرده اند.
اما مولوی ارسلا رحمانی یک عضو شورای عالی صلح افغانستان و رییس کمسیون زندان های این شورا گفت، که تا کنون صد ها تن از زندانیان به اثر تلاش های آنان از زندان ها آزاد شده اند. آقای رحمانی می گوید که لست افراد رها شده از زندان بگرام در نزد وی است اما می گوید، روشن نیست که چی تعداد از افراد مهم طالبان شامل این لست اند:
"از زندان بگرام افراد زیاد رها شده و آنان به ما یک لست مکمل داده اند که صد ها تن رهایی حاصل کرده اند.
یعنی مطلب من اینست که در نزد من هیچ معلومات نیست که این ۴۰ تن را کی رها کرده است و به چی تعداد آنان دوباره به مخالفان پیوسته اند."
مقامات شورای عالی صلح می گویند، مسوولان زندان بگرام به آنان پلانی را داده اند که زندانیان این زندان به ضمانت بزرگان قومی و محلی آزاد شوند.
در مورد رهایی برخی از زندانیان طالب از زندان های افغانستان در حالی سخن زده می شود که پیش از این جرگه ملی مشورتی صلح به حکومت افغانستان پیشنهاد کرده بود که به خاطر تامین صلح و حسن نیت، برخی از سران طالبان را از زندان های داخل و خارج کشور رها کند.

د بهرنيو چارو وزارت د ايران ...

شوې ده، چې د همدغو څرګندونو له امله نن د بهرنيو چارو وزارت ته وغوښتل شي.
هغه د ايران سفير دغه څرګندونې د ډيپلوماتيکو اصولو خلاف او د يوه هيواد په چارو کې د بل هيواد لاسوهنه وبلله او زياته يې کړه، چې مشرانو جرګه هيچ چا او هيڅ هيواد ته اجازه نه ورکوي، چې د جرګې په کورنيو چارو کې لاسوهنه وکړي.
همدارنګه نثار حارث د مشرانو جرګې په غونډه کې وويل، چې دی د ايران د سفير او د مشرانو جرګې په خبرو کې حاضر وو او د سفير خبرې داسې وې، چې دغه تړون بايد لاسليک نه شي؛ څکه چې د ايران ملي ګټو ته زيان اړوي.
هغه د ايران د سفير څرګندونې د ډيپلوماتيک عرف خلاف وبللې او ويې ويل: "هيڅ سفير حق نه لري، چې د بل هيواد په کورنيو چارو کې لاسوهنه وکړي."
حارث وويل، چې د مشرانو جرګې مشر په کلکه غبرګون سره د ايران سفير ته وويل: "افغانستان يو خپلواک او ازاد هيواد دی، افغانستان منتخب ولسمشر او اساسي قانون لري، هر څه چې د افغانستان ملي ګټې وي او د دغه هيواد خلک په کې سهيم وي، د افغانستان خلک يې په اړه پرېکړه کوي او په عمل کې يې اجرا کوي."
مسلميار هم وويل: "ما د ايران سفير ته وويل، افغانستان له ګاونډيو هيوادونو سره ښې اړيکې لري او له امريکا سره د افغانستان د ستراتيژيکې همکارۍ په هوکړه ليک کې دا ډاډ ورکړل شوی چې د افغانستان خاوره به د هيڅ کوم هيواد پر ضد نه کارول کيږي."
د مشرانو جرګې رييس همدارنګه د ايران د بهرنيو چارو وزير رامين مهمان پرست د څرګندونو په اړه وويل، چې ايران له مخکې نه په افغانستان کې د بهرنيو هيوادونو په ځانګړې توګه د امريکا له حضور څخه اندېښنه درلوده او اوس د ستراتيژيک سند له لاسليکولو سره مخالفت کوي.
هغه ايرانيان لېونې وبلل او زياته يې کړه: "موږ د خپلو ملي ګټو لپاره کار کوو او د هر څه پر وړاندې خپلو ملي ګټو ته ارزښت ورکوو."
دا په داسې حال کې ده، چې د ايران د بهرنيو چارو وزارت وياند دوه ورځې مخکې د دغه سند د لاسليکولو په اړه اندېښنه څرګنده کړې او ويلي يې وو: "د امريکايي اډو د څرنګوالي او د امريکايانو د راتلونکو دندو په اړه ابهام د ايران او د سيمې د هيوادونو د اندېښنې محورونه دي."
هغه زياته کړې ده، چې له امريکا سره د ستراتيژيک سند لاسليکول نه يوازې د افغانستان امنيتي ستونزې نه هواروي، بلکې د تېرو لسو کلونو په شان به دغه هيواد ګې نا امني او بې ثباتي لاپسې زياتوي.
خو د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت له امريکا سره د ستراتيژيکو اړيکو د همکاريو تړون په برخه کې د ايران د اندېښنې په اړه وايي، چې د افغانستان له خاورې به د هيڅ هيواد پر وړاندې کار وانه خيستل شي او افغانستان هم ورته غوښتنه لري.

حکومت افغانستان در مورد ...

حضرت الله حبیبی یکی از این آگاهان به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی در این مورد چنین ابرازنظر کرد:
"شاید قسمی که این جاسوسان اعتراف کرده اند، برخی افراد دولتی هم باشند که برای کشورهای همسایه کار کنند و این کار علنی است. چندین بار بین برخی از وزیران سابق که رسانه ها بهتر در جریان اند، یکی دیگر را به این کار متهم کرده اند. فعلاً در ارگان های دولتی ما برخی افراد استخدام شده اند که مستقیماً به منافع ملی کشورهای همسایه کار می کنند."
به تازه گی دو مرد افغان به نام های سید حسن و سید کمال از سوی ادارهء امنیت ملی افغانستان همراه با وسایل پیشرفتهء انفجاری به اتهام جاسوسی برای ایران بازداشت شده اند. در یک ویدیوی که از سوی یک منبع امنیتی به دسترس رسانه ها قرارداده شده، سید کمال یکی از این افراد به صراحت گفته است که در مشهد ایران کمپ های آموزشی به هدف تربیهء مخالفان مسلح دولت افغانستان وجود دارند.
سید کمال همچنان گفته که در این اواخر سپاه پاسداران انقلاب ایران تلاش می کند تا حزب اسلامی را دوباره برضد دولت افغانستان تقویت کند:
"تحریک می کنند و فعلاً جلب و جذب شان در تمام مقاطع ادامه دارند با گروه بسیار به شدت کار می کنند. می خواهند حزب اسلامی را دوباره بازسازی کنند و در حالی جذب نیرو هستند و همچنان طالبان را در بخش های از مشهد آموزش می دهند."
با درنظرداشت اعتراف های جاسوس های ایرانی در افغانستان تعدادی از افغانها از حکومت افغانستان می خواهند، تا در برابر مداخلات ایران در امور افغانستان عکس العمل جدی نشان بدهد. به گفتهء برخی آنان اگر در برابر مداخله های کشورهای خارجی به خصوص ایران گام های عملی برداشته نشود، مشکلات زیادی را به افغانستان درپی خواهد داشت.
"حکومت افغانستان بسیار خاموشانه عمل می کند، باید یک واکنش نشان بدهد در مقابل آنان و اگر سستی اختیار کردند، پس این عمل ادامه داشته و به زیان ملت و کشور ما خواهد بود."
"جاسوسانی که از ایران عازم افغانستان می شوند از آنان باید جدی تحقیق صورت گیرد تا که ریشهء آن در کجا است."
"باید اقدام کنند که حد اقل برای آنان یک پند عبرت گردد که دست های شان از افغانستان کوتاه گردد و نتوانند در داخل افغانستان کار های کنند که به ضرر افغانستان و به نفع خود شان باشد."
دو وسال گذشته در موارد مختلف نیروهای بین المللی و برخی کشورهای جهان ایران را به مداخله در امور داخلی افغانستان و حمایت نظامی و مالی از مخالفان مسلح دولت این کشور متهم کرده اند. اما به باور منتقدان، حکومت افغانستان تا اکنون نسبت به این مساله خاموشی اختیار کرده و عکس العمل جدی نشان نداده است.
گزارش ها همچنان می رسانند که پس از امضای موافقتنامهء ستراتیژیک دراز مدت میان افغانستان و امریکا ایران تلاش هایی تازه را آغاز کرده تا با تحت فشار قرار دادن حکومت افغانستان مشکلات را در برابر این توافقنامه ایجاد کند. در گذشته نیز انتقاد هایی از پالیسی ایران در قبال افغانستان صورت گرفته اند، اما مقام های ایران همواره مداخله در امور افغانستان را رد کرده اند.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اوونيزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير عبدالخليل (محمد خليل)
د اړيکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مسترديږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی
ډيزاين: خواجه وحيدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مينه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com